# خواجه محمد بنګښ
# د پښتو يو ګوشه نشين صوفي شاعر

عمر ګل عسکر

**Abstract:**

**Life and works of the Khwaja Muhammad Bangash; A solitary Mystic Poet of Pashto Language:**

Khwaja Muhammad Bangash, like countless other poets and scholars of the Pashto language is also an least known in the literary spheres. As a contemporary of the mystic poet Rehman Baba and Khushal Khan Khatak he has uttered outstanding poetry under the influence of his mystic practices. But there is little known about him as his accounts of poetry were explored and published in the mid twentieth century. His poetry contains his very genuine experiment of mysticism, as he has repeatedly ellaborated the significance of bondings ones inhuman desires and lust for material things and luxuries. Khwaja Muhammad lived during the reign of Shajehan and his poetry also reflects that he lived a long life and during the reign of Aurnagzeb. Though his diction reflects an influence from the classical Pashto and Persian poets but he has sustained his style much different as that of Rehman Baba, who is considered as the greatest mystic and classical poet. The language used in his poetry is purely mystic and there are several occasion when the reader feel that a consistent message of selflessness, humility and modesty is shared and elaborated.

خواجه محمد بنګش د پښتو ژبې د خپل وخت د هغو لوړو شاعرانو په ړومبي صف کښې ولاړ شاعر دے. چې په کښې خوشحال خان خټك او رحمان بابا لوړ سري ښکاري.

خوشحال خان خټك که د خپلې پښتونولۍ او قامي شاعرۍ په سوب د پښتون قام د سر شمله او د سترګو تور دے او رحمان بابا يې د خپل صوفيانه کلام په سوب د زړۀ ټکور او د روح قرار دے. نو خواجه محمد بنګش بيا د روحانيت او تصوف د لارې داسې سالك ښکاري چې د دنيا له ډېرو غمونو بې

غمه په يوه کونج کښې ګوشه نشين د حقيقي حسن و جمال په عشق کښې داسې ډوب دے چې هم ترېنه خپل کور او کلے ورك دے او هم ترېنه خپل نوم و نسب، که داسې نه وے نو ولې به دا ويل کېدۀ:

"ما خواجه محمد ته ورك نومي شاعر وئيلے دے. ورك نومے داسې چې د دۀ د کور کلي، خېل يا ټبر هيڅ سر پته معلومه نۀ شوه. بس دومره ده چې له نوم سره يې د بنګش نسبت تړلے را روان دے.(1)

دا خبره بېخي ښکاره ده. چې د پښتنو د کلاسيکي شاعرانو په تذکره کښې د هغوئې د قبيلې نسبت موجود وے. لکه مرزاخان انصاري، خوشحال خان خټك، معزالله خان مومند، رحمان بابا، حميد بابا، مصري خان ګګيانړے او داسې نور ډېر "(2).

"دغسې د بنګشو قبيله که څۀ هم د ځينې تاريخي روايات‌و له کبله د عربو د قرېشو سره تعلق لري. د بنګش ټکے په عربو کښې بنجش په عربستان کښې د حضرت خالد بن وليد ﷺ و اولادۀ ته وئېل کېږي. چې معنا يې د لښکري اولاد را وځي. دا په فلسطين، ترکي، ايران، افغانستان او پاکستان کښې د تاريخ په اوږدو کښې را وير شوے دے. چې ځان ته جلا تاريخي بحث غواړي "(3).

"بنګش اوس د خپلو جغرافيايي حالاتو، روايات‌و، ژبې، عادتونو، دود و دستور له کبله د پښتنو د نورو قبيلو په رنګ يوه درنه قبيله ده. چې ډېر سپېڅلي روايات لري"(4).

"د بنګشو په قبيله کښې هم ډېر لوړ شاعران تېر شوي دي او خواجه محمد بنګش نوم به په کښې ډېر ذکر کېدۀ"(5)

"د خواجه محمد بنګش څلرويشت (24) غزلې او شپږ (6) قصيدې د کومې خطي نسخې مېجر راورټي په ګلشن روه کښې اول ځل راوړې دي"(6).

مېجر راورټي په خپل کتاب "سلېکشنز فرام دي پوئټري آف دي افغانز" کښې د خواجه محمد په حقله ليکلي دي چې:

"د دې شاعر د ژوند د حالاتو مواد ډېر کم دي. د دهٔ په حقله د دې نه سیوا ډېر کم معلومات شته چې د ے د مغل شهنشاه اورنګزېب په دور کښې ژوند ے ؤ. او د بنګشو د قبیلې نه ؤ"(7).

د تحقیق او د څېړنې موضوع په هر وخت او په هر زمان کښې په هر کار او روزګار کښې خپل دوام لري. له بده مرغه د پښتنو تل تر تله دا ستونځه پاته شوې ده چې د تاریخ په اوږدو کښې د قومونو د ظلم او جبر ښکار پاتې شوې ده. او د دوئ ادبي، علمي او ثقافتي ورثې ته تاوانونه رسول شوي دي. خو پښتون په نړۍ کښې داسې سر لوړے او ننګیالے قام د ے. چې په هر وار د مځکې څخه را پورته شوے د ے او د خپل ځان د ژوندانهٔ ثبوتونه یې وړاندې کړي دي. په خپلې مځکې او ټاټوبي، مست الست ولاړ پاتې شوي دي. خو کاش! چې مخ په وړاندې یې هم ګامونه اخستلے.

د پښتون هم دغه د خپلې ژبې، قام او ټاټوبي سره بې کچه مینه ده چې د وخت په ګرځ کښې ډېر پټ شوي ادبي او علمي آثار یې را پیدا کړل. او د اشاعت له رویه یې بشپړ کړل. مېجر راورټي له کومي خطي نسخې څخه د خواجه محمد بنګش غزلې او قصیدې را نقل کړې. دا نهٔ ده معلومه. دغه راز و اروابښاد مولانا عبدالقادر هم چې د هنګو د خانانو په کورنۍ کښې د پښتو د ډېرو قلمي کتابونو ذکر کوي. او د خپلو جماعتي ملګرو او شاګردانو د بشپړتیا باوجود د قلمي نسخو په پیدا کولو کښې پخپل کوشش کښې ځان پاتې بولي مګر کله چې د خواجه محمد بنګش قلمي نسخه په لاس ورځي نو د وسیلې یا حوالې ذکر نهٔ کوي "(8).

زهٔ دا ذکر دلته ځکه کوم چې د خواجه محمد بنګش په حقله بشپړه معلومات نهٔ دي تر لاسه شوي. خو فقط دومره قدر چې د ویاتولو سهرا د مېجر راورټي په سر تړلې ده. چې وایي:

"زهٔ دا خپله خوش قسمتي ګڼم چې د دې ګرایمر د اول ټوك د چاپ کېدو درې کاله پس ما ته د ډېرو قیمتي اشعارو یوه مجموعه په لاس راغله کومه چې خواجه محمد بنګش لیکلې ده "(9).

مخکښې لیکي چې: "دا شاعر د اورنګزېب په دور کښې تېر شوے او د ګوشه نشیني ژوند یې تېر کړے د ے"(10)

د مېجر راورټي نه پس پادري هيوز هم په کليد افغاني کښې د دهٔ ذکر کړے دے. (لاهور طبع 1893). او کله چې اروابناد علامه عبدالحئ حبيبي د پښتانهٔ شعراء لومړي ټوك په 1940ء کښې ليکي نو يې هم د مېجر راورټي له ګلشن روه 1860ء او د پادري هيوز د کليد افغاني 1893ء څخه استفاده وکړه "(11).

اروابناد علامه عبدالحئ حبيبي دلته په هم دغه ځاے دا هم ليکي چې:

"د دهٔ (خواجه محمد بنګش) د ديوان يوه خطي نسخه د مردان د پښتنو يوه پوه ښاغلي حبيب الرحمان (قلندر مومند) ماته را ولېږله چې تر اوسه راسره پرته ده. څو چې په کال 1965ء د پېښور د پښتو اکېډمۍ د پرېشان خټك د مقدمې سره چاپ کړه "(12) .

اوس دا معلومه شوه چې د خواجه محمد بنګش د ديوان دوې نسخې را پاتې شوې يوه نسخه د اروابناد علامه عبدالحئ حبيبي سره چې د حميد الله نومي کاتب په بد خط کښلې شوې ده. ډېر تواقض او ادبي عيوب هم لري "(13).

او دا علامه حبيبي ته حبيب الرحمان قلندر مومند لېږلې وه. او بله نسخه چې د پښتو اکېډمۍ پېښور تر لاسه شوه کاتب رحيم الله ساکن د طورو ليکلې وه "(14).

خو چا تر اروابناد مولانا عبدالقادر را ورسوله دا نهٔ ده معلومه.

له دې وروسته د خواجه محمد بنګش په حقله را برسېره شوي معلومات د دهٔ د ديوان څخه را ايستل شوي او د تحقيق او پلټنې په ذريعه بشپړ شوي دي. خو زهٔ دلته د نور څهٔ نه وړاندې د عبدالقادر د بېدل د پښتو هغه دوه شعرونه وړاندې کوم چې د خواجه محمد سره د نورو نوموړو کلاسيك شاعرانو ذکر هم شته:

قلندر، عبدالحميد، خواجه محمد دے
هم غفور، اشرف خليل او کامګار خان دے

مسلم په شعر دا دے و هر چا ته
چې هر يو له ديو واړو نکته دان دے

دا شـعرونه د بېـدل د پښـتو شـعرونو دیـوان څخـه را اخسـتل شـوي دي کـوم چـې نـامتو محقـق همـېش خلیـل پـه کـال **1957**ء کښـې چـاپ کـړي دي او مـا نـۀ دي لیـدلے. خـو د افغانسـتان د نـامتو محقـق حبیـب الله رفیـع د ادبـي سـتوري پـه لـومړي ټـوك کښـې د بېـدل د هـم دغـه فکـر، قافیـه، ردیـف او بحـر کښـې نـور اشعار را وړي دي چې پکښـې د صـاحبزاده محمـدي، علـي خـان، سـعید میـا اکبـر ذکـر هـم راغلـے دے. شـاید چـې د نـورو شـاعرانو ذکـر هـم پکښـې راغلـے وي. او دا شاعران بېدل خپل هم عصر بولي "(**15**)

بېـدل پـه **1054**ء کښـې پیـدا شـوے او پـه **1133**هــ کښـې پـه حـق رسـېدلے دے "(**16**)

لـه دې څخـه زمـا مـراد د هغـه دور ټاکنـه ده پـه کـوم کښـې چـې خواجـه محمـد بـنګش ژونـدے ؤ. پـه خپلـه د دۀ د شـعرونو پـه رڼـا کښـې چـې و کـوم دور تـه اشـاره کیـږي هغـه د خواجـه بـنګش دوه شـعرونه دي چې پـه یـوه کښـې د مغـل بادشـاه شـاه جهان او په بل کښې د اورنګزېب عالمګیر ذکر شوے دے لکه:

هسـې خـوښ د تخـت دپاسـه خـرم نـۀ دے
چـې عاشـق دا سـتا پـه در کښـې خـوښ خـرم دے

او بل شعر:

د اورنـګ پـه بـاچهي کښـې مـې نیـاؤ نـۀ شـي
زۀ خواجـه محمـد بـه وزم و بـل لـور تـه

پـه دا لـړ کښـې دریمـه حوالـه هغـه شـعرونه دي چـې خواجـه بـنګش د خپـل پیـر میـان عبدالرحیم او د چشـتیه سلسـلې د نـورو پیرانـو ذکـر کـوي. میـان عبـدالرحیم د خپـل پـلار میـان علـي بابـا خلیفـه ؤ او هغـه د اخونـد پنجـو بابـا خلیفـه ؤ چـې هغـه د خزینـة الاصـفیاء د مؤلـف مولـوي غـلام سـرور لاهـوري مطـابق پـه **1073**هــ کښـې او د تحفـة الاولیـاء مطـابق پـه **1037- 1068**هــ او اورنګزېـب (**1068 – 1118**ء) زمـانې تـه چـې پـام وکـړو نـو خواجـه بـنګش پـه هـم دغـه زمانـه کښـې ژونـدے ؤ. او چې د خپل عمر په حواله هم داسې شعرونه وایي لکه:

تــــر پنځوســـــو تـــــر شــــــپېتو کلونــــــو تېــــــر شـــــوم
لاتــــــر اوســـــه نـــــۀ شـــــوم ســـــم زمــــــا صــــــاحبه!

غـــــابن وتلـــــې، وېښـــــتۀ ســــــپين ســــــترګې تــــــاريکې
واړه لــــــــې زمــــــــا پـــــــه مــــــرګ بانــــــدې ګــــــواهي

اوس نــو چــې خواجــه بــنګش د شــاه جهــان دور هــم کــتلے د ے. او د اورنګزيــب دور هــم چــې د پښــتنو سره يـې جنـګ او جګـړې د عالمګيرنامـه مطـابق پـه 1077هــ کښــې شـروع شــوې او د خوشـحال خـان ختـﮏ د مـرګ 1100هــ نـه څـو کالــه وړانــدې ختمـې شـوې. نـو مـونږ د خواجـه بـنګش ژونـد د 1030هـ نـه تـر 1100هـ اټکلـولے شو "(17).

د خواجــه بــنګش د شــاعري پــه حوالــه پــه ړومبــي ســر کښــې مېجــر راورټــي داسې وايي چې:

"د هغۀ په ليك کښې د صوفيانو د تصوف رنګ ډېر زيات د ے"(18)

نـو ښځـي صحي وايـي ځکـه چې د خواجـه بـنګش پـه شـاعري کښـې د تصـوف ماسـيوا نـور ډېـر کـم څـۀ پـه لاس راځـي. عشـق، هجـر، وصـال، د حسـن سـتاينه، د دنيــا بــې ثبــاتي او پنــد و نصــيحت د دۀ د خوښــې موضــوعات دي. چــې پــه شــعري هنـر ښـۀ پسـولـلي دي. اروابښـاد علامـه عبـدالحي حبيبـي د خواجـه بـنګش د فـن پـه باره کښې داسې وايي:

"د خواجـه محمـد بـنګش غزلـې خـو پـه لفـظ او معنـا کښـې د هنـر ښـکلا لـري. هـم يـې قالبونـه ښـۀ دي هـم يـې محتـوي ښـکلې ښـکاري. د تصـوف پـه رنـګ کښـې عاشـقانه غزلـې لـري چـې کلـه کلـه پـه اخلاقـي او عرفـاني ګېڼـو هـم پسـوللې شـوي دي "(19).

اروابښاد مولانا عبدالقادر په چاپي ديوان کښې د دۀ په حقله ليکي چې:

"دې (خواجــه بــنګش) د بنګشــو د قبيلــې اولــنے صــاحب ديــوان شــاعر د ے او کــلام کښــې يــې اخلاقــي او عشــقيه مضــامين ډېــر زيــات دي. ژبــه يــې ډېــره خوندناکـه او سـاده ده يـو نـيم ځـاے کښـې خـو پـرې د رحمـان بابـا ګمـان اوشـي. د خپل وخت د لوړو شاعرانو نه يو ؤ "(20).

هم دغه شان اروابناد صديق الله رښتين د پښتو ادب په تاريخ کښې د خواجه محمد بنګش په حواله ليکي:

"دا سړے هم د پښتو له مشهورو شاعرانو څخه دے. د خوشحال خان معاصر او د اورنګزيب په وخت کښې ژوندے ؤ. خواجه محمد د پښتو يو پوخ شاعر دے. دۀ عشقي، عرفاني او اخلاقي اشعار ويلي دي"(21).

د چاپي ديوان په ديباچه کښې چې اروابناد پرېشان خټک ليکلې ده چې کله دے په پېښور يونيورستۍ کښې د پښتو لېکچرر ؤ. د هغۀ د خواجه محمد بنګش د شاعري په باره کښې د ترتيب سره د خپل يو نظر په بنا وړاندې کوم چې ذکر به يې مخ ته وکړم. د اشعار افکار د سر خط لاندې ليکي:

"د دۀ اشعار په فصاحت او بلاغت او نورو ادبي ښېګړو کښې اوسطه درجه دي. عشقي، عرفاني، اخلاقي مضامين لري".

مخکښې ليکي: "خواجه محمد په فکر کښې پوره صوفي دے. دے د عرفان په مسئلو کښې د مرشد او هادي د اهميت ډېر تاکيد کوي او د خواجه محمد دا شعر يې وړاندې کړے دے چې: صفحه **11**، **15** چاپي ديوان:

کاملانو څخه هسې رنګ کيميا ده
تر قربان د کيمياګرو واړه زر شه

دې نه پسته ليکي: "خواجه محمد اخلاقي مضامين په ښۀ ډول ويلي دي. او په ادبي تلازماتو کښې هم له خپلو معاصرينو څخه تر شا نۀ پاتې کيږي. مخکښې ليکي چې: "خواجه محمد که د خپل شعر او قريحه فقط عرفاني مضامينو ته نۀ وي بېله کړي. او په نورو خواوو کښې يې څۀ ويلي وي. نو به د پښتو د لومړۍ درجې شاعرانو څخه وے. ځکه چې دے داسې روڼه قريح لري چې نوي مضامين هم ميندلاے شي. مګر روحاني جذب او هيجان دے ماديات ته لږ پرې اېښے دے. که نۀ وي کله کله چې د بلاغت او ادب ميدان ته راشي. داسې مضامين مومي چې بل چا نۀ وي ميندلي". او د مثال په ډول يې د خواجه محمد بنګش دا شعر وړاندې کړے دے:

ګـــوتې تـــورې کــړې، پــه مـــا يـــې کـــړې را پـــورې
زۀ حېـــران يـــم ســـتا د ســـپينو ګوتـــو تـــور تـــه

(چاپي ديوان مخ 10، 11)

او وړانـدې چـې د خواجـه محمـد بـنګش پـه کـلام عشـقيه کـلام، اخلاقـي کـلام، عرفـاني کـلام او د مرثيـه د سـر خـط د لانـدې اروابـاد پرېشـان خټـك خپـل د فکر رڼا اچوي نو ليکي:

"د خواجـه محمـد کـلام د دۀ د ژونـد عکاسـي کـوي. لکـه څرنګـه چـې دے پـه خپله د دنيـا نـه يـو ګـوټ تـه شـوے ؤ. او د دنيـا پـه کاروبـار يـې غـم غـرض نـۀ لرلـو. دغـه شـان يـې د کـلام نـه هـم دا ښـکاره کيـږي چـې دۀ ځـان تـه يـوه بېلـه دنيـا جـوړه کـړې ده. يـوه داسـې دنيـا چـې پـه هغـې کښـې فقـط عشـق، عرفـان، اخـلاق او بيـا خلـوت نشـيني وه بـل هـيڅ نـۀ ؤ، د دۀ اشـعار ډېـر معنـي دار دي. پـه فصـاحت، بلاغت معاني او نورو ادبي ښېګړو پور دي"(22).

دلتـه کـومې خبـرې چـې زمـا فکـر اړتـاؤ کـړے دے. هغـه د خواجـه محمـد بـنګش د کـلام پـه حوالـه د اروابـاد پرېشـان خټـك د ړومبـۍ او اخيرنـۍ رايـې تفـاوت دے. داسـې معلـومېږي چـې پـه دې ديبـاچې بيـا نظـر ثـاني نـۀ ده شـوې. بلـه بيـا دا خبـره چـې پـه ديباچـه کښـې د خواجـه محمـد بـنګش د قبيلـوي شـناخت پـه حوالـه کـوم بحـث شـوے دے. د هغـې نـه د خواجـه محمـد بـنګش شـناخت او حېثيـت تـه تـاوان رسـېدلے دے. د دۀ د قبيلـوي شـناخت پـه حقلـه چـې د چـاپي ديـوان (مطبوعـه پښـتو اکېډمۍ پېښـور 1965ء) نـه يـو سـل پينځـه کالـه د مخـه مېجـر راورټـي پـه خپـل کتـاب "ګلشـن روه (۱۸۶۰ء) قبيلـوي شـناخت کـوم روايـت را وړے دے. هغـې تـه د منلـو بـاوجود متنازعـه شـکل ورکـړل شـوے دے. حـال دا چې د بنګشـو پـه سيمه کښې هـم د هغـه پـه حقلـه روايـت شـته. خـو څـوك يـې پېژنـي نـۀ چـې کـور کلے يـې چرتـه ؤ؟. زۀ پـه دې حقلـه و دې طرفتـه هـم پـام را اړول غـواړم چې مېجـر راورټي کلـه چې د خواجـه محمـد بـنګش شـعري مجموعـه پيـدا کـوي نـو ليکي چې: "دا خواجه محمد بنګش ليکلې وه"(23).

نـو آيـا دا واقعتـاً د خواجـه محمـد بـنګش پـه لاس ليکلـې نسـخه وه او کـه د حميـد الله پـه بـد خـط کښـلې نسـخه وه چـې حبيـب الرحمـان (قلنـدر مومنـد) و

علامه عبدالحی حبیبي ته ولېږله. او که هغه نسخه وه چې د کاتب رحیم الله ساکن د طورو په خط لیکل شوې پښتو اکېډمۍ پېښور ته حواله کړل شوه. مګر چا؟ دا نۀ ده معلومه.

زۀ دلته د څېړنې او پلټنې و بل اړخ ته هم ستاسو پام را اړول غواړم کوم چې د خواجه محمد بنګش د یوۀ شعر په حواله د هغۀ د ژوندانۀ د نېټې په اړه اروابښاد خیال بخاري کړې ده چې هغه هغه وخت د پښتو اکېډمۍ پېښور د مطبوعاتو د څانګې مشر ؤ. د خواجه محمد بنګش شعر دے چې:

چې یې اسم په اسمونو کښې اعظم دے
ښایسته د زماني شاه عالم دے"(24)

د دې شعر څخه چې د خواجه محمد بنګش د ژوند نېټه اټکلولو د پاره چې کومه معمیزه څېړنه شوې ده. هغه کښې د خپل ګمان په بنیاد "اعظم" قافیې ته غلط ویل او د "معظم" قافیه راوړل چې دا به صحي وي. خپلې اختراعي نکتې ته د ګمان په بنیاد اډانه ورکولو سیوا نور هیڅ ګټه نۀ ده را وړې. د دې په ځاے که هغۀ د دې مطلعې نه تر مقطعې پورې په یو ځلوېښت شعرونو ښه ژور نظر اچولے وے نو به د لاندیني شعرونو په رڼا کښې دا معمه نۀ وے وړاندې کړې. شعرونه داسې دي:

و صفت ته یې ادراک د بشر نشته
واقع شوے پکښې والله اعلم دے
تۀ رڼا د درست جهان یې زما یاره!
چې په تا باندې د حسن اسم تم دے

او چې د خواجه محمد بنګش کلیمه شاعري د تصوف په رنګ کښې رنګ شوې د حقیقي عشق د حسن و جمال د ستاینې مجازي انداز او د دنیا څخه د ګوشه نشیني په چوکاټ کښې وینو. نو په معمیزه څېړنې زما زړۀ سړې اوبۀ نۀ څښي. او زۀ هم د خواجه محمد بنګش په شانِ د سپینو ګوتو تور ته حېران شم.

لکه څنګه چې د خواجه محمد بنګش د چاپي دیوان دیباچه اروابناد پرېشان خټک تر خپله وسه ډېره ښه کښلې ده خو د سړي بار بار پرې ماتېږي نه، بلکې بار بار يې نور زيات شي. ځکه ما هم ګونډې ورته ووهلې. او له سره تر پایه مې په څو ځله ولوست، که څۀ هم ما د پښتو اکېډمۍ کوټې په منظور "پښتو شاعري او تصوف" کتاب ليکلو په وخت ديوان مطالعه کړے ؤ. او هغه وخت نۀ يواځې د خواجه محمد بنګش په حقله بلکې د نور کلاسيک شاعرانو په حقله هم فکر واخيستم چې د دغو نومورو د ديوانونو د راوياتېدلو او د چاپېدلو باوجود په زړۀ پورې پاملرنه ورته نۀ ده شوې ګني د پښتو ادب علمي او فکري اثاثه به نوره هم زياته شوې وے. او پښتو ادب به په نورو ډېرو مېړويانو هم چورلېدلے. ولې بهر حال کور يې ودان د هغو ژوندي سره او متقدمينو او زۀ ورته تبريک وړاندې کوم چې د نوم ورکو کلاسيک شاعرانو ديوانونه يې را ويات او چاپ کړل. دا اوس د نوي کهول ذمه داري ده چې په دغو ديوانونو کښې څېړنې او پلټنې وکړي او د نادره ادبي، علمي او فکري موضوعاتو د پښتو ادب لمن پراخه کړي.

د خواجه محمد بنګش سره زما مينه د بنګشوالي په وجه هم ده او د تصوف په حواله هم. نو ځکه چې کله د پښتو څانګه بلوچستان یونیورسټي کوټې له خوا د ليک او ويلے شو. نو مې د پښتو لېکچرر ښاغلي جاوېد اقبال اقبال خټک سره د خواجه محمد بنګش په حقله خبره پخه کړه اوس راځمه د خواجه محمد بنګش د چاپي ديوان نه د خپلې خوښې مطابق چوڼ کړي شعرونو خواته.

د خواجه محمد بنګش د شعري استعداد په حواله ما د پخوانو مشرانو رايې وړاندې کړې. هغوئ چې څۀ ويلي دي درست يې ويلي دي زۀ به يې د تکرار نه ځان خلاص کړم. او دا شعر يې وړاندې کوم:

عجب ويل کا که يې غوږ باسي
خواجه به و مري نوم به يې پاتې شي

د خواجه محمد بنګش عجب ويلو ته پام وکړئ چې د خپل ځان په باره کښې يې څنګه پېشن ګوئي کړې ده. هغه يو درويش، صوفي او مستغني

انسـان ؤ. دنیـاوي چـارو سـره یـې هـیڅ غـم غـرض نـۀ درلـودو. خپـل کـور او کلـي نـه دا شاني بې پروا ؤ چې دا دنیا هم ورته پردی وطن ښکاري لکه چې وایي:

پــه پــردي وطــن کښــې خــوښ شــوے بــې مروتــه
چـــې مرکـــز د ے بیـــا یـــاد نـــۀ د ے خپـــل وثـــاق

د دې شـعر دنیـاوي او اخـروي دواړي معنـاوې را ایسـتلے شـو. چـې وثـاق عهـد و پیمـان د خپلـو څخـه هـم د راوتلـو پـه موقـع کېـدلے شـي. او هغـه میثـاق طـرف تـه هـم اشاده ده چې په ازل کښې خدائ تعالے د ادم د اولاد څخه اختسې وه.

د خواجـه بـنګش کـه څـۀ هـم دنیـا خوښـه نـۀ وه مګـر بیـا هـم پـه دنیـا کښـې اوسېدل د زړۀ زور غواړي، هغه که څۀ هم دا وایي:

مســـــتغني د قناعـــــت پـــــه خزانـــــو شـــــي
جســـــتجوئ د نیـــــادارو پـــــه در نـــــۀ کـــــا

ولـې بیـا هـم چې خپـل قسمت تـه یـې پـام شـي نـو پـه داسې ټکـو کښـې ګویانـه شي چې:

شـــوم د ے شـــوم د ے طـــالع مـــې شـــوم د ے
مـــا چـــې کـــتلے علـــم نجـــوم د ے

خـو پـه دې هـم پـوهېږي چـې دنیـا فـاني ده، نـن کـه زمـا ده صـبا د بـل ده. او داسې نصیحت کوي:

دنیـــا د بـــل ده بیـــا بـــه د بـــل شـــي
خلـــق نـــادان دي مینـــه پـــرې څـــۀ کـــا

خواجـه محمـد بـنګش نـۀ یـواځې دا چـې د خپـل پیـر سـره ډېـره مینـه او عقیـدت لـري بلکې هغـه د رومانیـت او تصوف پـه لار کښـې د کـاملانو راهنمـائي ضـروري امـر ګڼـي. د خپلـې هـم دغـې مینـې او عقیـدت پـه سـوب هغـه د چشـتیه سلسـلې هـم ډېـر صـفت کـړے د ے. او قصـیدې یـې وربانـدې لیکلـې دي. او د خپل پیر عبدالرحیم د مړینې پس یې د هغۀ مرثیه هم لیکلې ده.

تــــهٔ چــــې ولاړې اے زمــــا پیــــره کاملــــه!
دا دنیــــا شــــوه پــــه خواجــــه محمــــد خرابــــه

د تصــوف ځانتــه یــوه بېلــه دنیــا ده، هــر انســان چــې د جســم او روح ســره مشــخص دے. خپــل یــو نفس هــم لــري. دا نفـس انـا ده. خــودي ده. هغــه ځــانګړې یکتـایي ده چـې دے یـې لـه ازلـه مشـخص کـړے دے. دا بـه یـا ښـهٔ کـوي یـا بـد. او خپلـه ازلـي مقسـومي برخـه بـه ترلاسـه کـوي. چـې ښـهٔ وکـړي نـو جنتـي او چـې بـد وکـړي نـو جهنمـي شـي. د هـم دغـه ازمېښـت دپـاره انسـان دنیـا تـه را لېـږل شـوے دے. او مهربـان خـدائې او رحـیم د دهٔ د لارښـوني دپـاره هـم پیغمبـران رالېږلـي دي. او هـم یـې اسـماني کتابونـه. ځکـه چـې خـدائې ﷻ خـو هرڅـهٔ یـو رنګـه پیـدا کـولاے شــو. او انســان چــې ســماعت بصــارت او زړهٔ لــري د علــم او هــدایت پــه رڼــا کښــې خپـل ځـان تـه د خپلـې لارې تـاکلو تـه ازاد دے. د رشـد او هـدایت او د علـم و عرفـان دا سلسـله چـې لـه ازلـه جـاري شـوې ده. نـو تـر قیامتـه بـه جـاري وي. د خـاتم النبیـین حضــرت محمــد ﷺ پــس اولیــاء، علمــاء او صــلحاء پــه ذریعــه د رشــد او هــدایت سلسـله جـاري سـاتلې ده. انبیـاء هـم د خـدائې ﷻ طـرف تـه بنـدګان رابللـي دي. او اولیـاء، علمـاء او صـلحاء هـم دغـه سـنت خپـل کـړے دے. خواجـه محمـد بـنګش ځکه خو وایي:

اے خواجــــه محمــــده! پیــــر کامــــل و غــــواړه
توجــــــــه د کـــــــــاملانو کیمیــــــــا ده

یا بیا داسې چې:

کــــاملانو څخــــه هســــې رنــــګ کیمیــــا ده
تــــرې قربــــان د کیمیــــاګرو واړه زر شــــه

د تصــوف پــه لار کښــې پیــري او مریــدي ړومبــۍ تېــره ده. دې کښــې ذکــر اذکـار هـم شـته چـې بنـاء یـې د اسـم ذات نـه شـروع کېـږي. حمـد و ثنـاء هـم شـته. تسبیح او تهلیل هم شته. خواجه بنګش وایي:

ستا د اسم ياد زما د زړۀ تسبيح دي
نور مې څۀ دي له تهليله له تسبيح

دا ذکر اذکار په زړۀ کښې خفي هم کيږي او په خولۀ په جهر هم کيږي. خو د خواجه بنګش نظر بيا څۀ داسې دے:

بې ادبه ناري مه وهه په زوره
په ورو ورو يې يادوه دلبر سميع

دا ذکر اذکار، مجاهدات او رياضات او تصور د شيخ د عشقِ حقيقي و خواته ړومبۍ پوله ده. د صوفي سالك زړۀ نۀ د ما سيوا خبرې ورو ورو په صفا کيدو شي او د زړۀ آئينه يې مصفا او ځليږي. خواجه بنګش له دې کيفيت نه تېر شوے معلوميږي ځکه خو داسې وايي:

چې حاصله دې فنا شي هسې حال درته پيدا شي
وړاندې وروستو واړه وينې آينه يې مصفا شي

ابتدا يې انتها وي انتها يې ابتدا شي
په وحدت کښې خوشحالي کا و کثرت و ته يې شا شي

په سلوك کښې له ابتدا تر انتها دا سفر خپل خپل پړاؤ نۀ لري او چې څومره د عشق تانده اسپه سپور روان وي. هغومره په تندي سره د انتها و منزلونو ته رسي. خواجه محمد بنګش يې داسې ښائي:

تۀ د عشق په لار روان شه، له اعرافه نکته دان شه
دلته دي څلور مقامه، اګاه شه له دې اوصافه

يو ناسوت دے بل ملکوت دے غافل نۀ پوهيږي بوت دے
هغه عاشق به پرې پوهيږي چې سينه يې وي شفافه

بل مقام د جبروت دے، د رندانو ځائې لاهوت دے
اے طالبه! د دې لارې، تۀ يې زده کړه له کشافه

د عشــق ډېــرې نتيجــې دي شــه ســنبال خواجــه محمــده!
شــريعت روښــانه لار ده، پکښــې تېــر شــه تــر عرافــه

خواجـه محمـد بـنګش هـم د شـریعت روښـانه لاره خپلـه کـړې وه. ځکـه چـې د دهٔ د خپـل کامـل پیـر میـا عبـدالرحیم پـه حضـور کښـې ژونـد تېـر کـړے ؤ. او د کـاملانو پـه دود او دسـتور او د تصـوف پـه اسـرار او رمـوز ښـهٔ خبـر ؤ. او چـې کلـه د کاملانو په ستائینه کښې ګویانه شي نو داسې وایي:

چــې مونــدلے یــې لــه خدایــه ســعادت دے
مســـتقيم د پـــاك رســـول پـــه شـــريعت دے

طريقـــت يـــې واړه طـــے پـــه رياضـــت دے
معتكـــف پـــه خانقـــاه د حقيقـــت دے

اشـــنايي د مـــا ســـېوا ورځخـــه لاړه
خمـــار شـــوے پـــه شـــراب د معرفـــت دے

د خواجـه محمـد بـنګش شـاعري د تصـوف پـه ډېـرو ګېڼـو پسـوللې ده. دهٔ د حقیقـت پـه سـمندر کښـې غـوپې وهلـې دي. او د عرفـان و هغـه منـزل تـه رسـېدلے دے چې وایي:

هــر چــې عارفــان دي مجــازي مینــه بــه نــهٔ کــا
نشــته دے بهتــره بــې لــه خدایــه مینــه نــوره

او بل ځائے وایي:

مینـــــه یـــــوه ده خواجـــــه محمـــــد
ارمـــان بـــه یـــو شـــي چـــې مینـــه لـــه بلـــه کـــا

پـه عشـق او مینـه کښـې چې د هجـر اور بـل شـي نـو عشـق او مینـه نـوره پـه ځـلا شـي. خواجــه محمــد بــنګش د هجــران پــه اور کښــې هــم لامبلــي دي او داســې کوکارې له خولې باسي:

یخې اوبـۀ نـۀ شـته چې پرې تنـده مـې شـې ماتـه
زۀ بـه هسـې ګـرځم، سـینه سـوے تـر قیامتـه

د هغۀ جانان د جملوو ښایستو بادشاه دے. او داسې یې هم صفت کوي:

جانـان چـې پـه ښایسـت کښـې د جملـه د بـرو سـر دے
ځکـه مـې قـدم د دۀ مـنلے پـه خپـل سـر دے

خواجـه محمـد بـنګش چـې پـه مجـازي رنـګ کښـې کـوم شـعرونه ویلـي هغـه کـه د دۀ د جمالیـاتي حس ځرګندونـه کـوي نـو بـل طـرف تـه د هغـۀ د شـاعرانه فکـر و فن ثبوت هم وړاندې کوي. لکه دا رنګه شعرونه یې وګورئ:

پـه مـلال کاتـۀ یـې لـوټ خواجـه محمـد کـړ
چـې محبـوب دي تـر حجـاب ورتـه کتلـې

او یا بیا داسې چې:

در پـوهېږم ډېـر عـالم بـه لېـونے کـړي
تـۀ چـې سـپینه سـینه ځـې تښـې پرانسـتې

د خواجـه محمـد د اخلاقـي شـعرونو پـنډ هـم ډېـر درونـد او پـه زړۀ پـورې دے. د نمونې په ډول یې دا شعرونه وګورئ:

زړونـه مـه مـاتوه لال د بدخشـان دے
بیـا مشـکل دے رغـول د ښایسـتوو

چـې دي تخـم پـه پټـي کـرلے نـۀ وي
د غلـې پـه وخـت بـه واخلـې ځېنـې خـاورې

راشـه نیکـي کـړه، ورکـه بـدي کـړه
عمـل بـه واړه پـه مېـزان تـولي

شـیرین عمـر لکـه بـاد هسـې تیریـږي
لاتـر کومـه بـه سـرود چنـګ و ربـاب کـړې

خواجه محمد بنګش چې هر څو په بخت نېستګاره ژوند تېر کړے. د هغهٔ په حقله تفصيلي معلومات تر اوسه نهٔ دي را ويات شوي. خو د خپل کلام په رڼا کښې د هغه د ژوند ځينې اړخونه رابرسېره کيږي او کولاے شو چې نور يې و پښتو نړۍ ته نمايان کړو. لکه د هغهٔ د قصايدو او مرثيو ژوره څېړنه او پلټنه او دا به هغه وخت هم د تکميلې په لور هڅه وکړي چې د ارواښاد علامه حبيبي سره پرته نسخه هم د چاپ څخه راووځي. نو به نور ډېر څهٔ ځينې را برسېره کړل شي. په اخير کښې د خواجه محمد بنګش په دې شعر دا کرښې پائې ته رسوم:

اينــــه مــــي د زړهٔ صـــافه شـــوه لـــه زنګـــه
چـــې پـــه ســـر مـــې د توحيـــد ســـپينه کـــلاه

# ماخذونه


(1) مولانا عبدالقادر، ديوان خواجه محمد بنګش، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، پېښور، 1975ء مخ 3.

(2) ايضاً

(3) بنګش، شهباز خان، تاريخ بنګش.

(4) خټک پرېشان، ديباچه ديوان خواجه محمد بنګش، مخ 5.

(5) ايضاً مخ3.

(6) رشاد، علامه عبدالشکور، د ګلشن روه سريزه، مخ 69.

(7) ديباچه، چاپي ديوان، پښتو اکېډمي پېښور، مخ 8

(8) ايضاً

(9) ايضاً مخ 7، 8.

(10) ايضاً

(11) حبيبي، پوهاند عبدالحی، د پښتو ادب لنډ تاريخ،شاد خپرندويه ټولنه، کندهار، 2008ء مخ 157.

(12) ايضاً مخ 157.

(13) ايضاً مخ 158.

(14) بخاري، خيال، يو څو خبرې، چاپي ديوان، 1965ء، مخ 42.

(15) رفيع، حبيب الله، ادبي ستوري، پښتو ټولنه کابل، 1353هـ ش، مخ 224، 225.

(16) عبادالله، خواجه، بېدل، اختر مطبوعه اداره ثقافت اسلاميه، لاهور، 1952ء مخ 108، 109.

(17) يو څو خبرې، چاپي ديوان، مخ 45، 46.

18) خټک، پرېشان، ديباچه، چاپي ديوان،پښتو اکېډمي پېښور، 1965ء، مخ 10.

(19) حبيبي، علامه عبدالحے، د پښتو ادب لنډ تاريخ، مخ 158.

(20) پېژندګلو، د چاپي ديوان، مخ 4.

(21) ديباچه، چاپي ديوان، مخ 12.

(22) ديباچه، چاپي ديوان، مخ 17.

(23) ديباچه، چاپي ديوان، مخ 8.

(24) بخاري، خيال، يو څو خبرې، چاپي ديوان، مخ 46.